د کتاب نوم : ======= د نابغه ټاټوبی وپیژنه

لیکوال : ======ادریس ساحل صافی

ډالی : ======== زما ورور انجینر ذبیح الله صافی ته

Ketabton.com

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

Mon, Dec 7, 2020 17:27
• N 34°52'21.59328" E 71°8'48.81804"

کونړ ولایت پیژندنه

د کونړ ولایت غرنی سرحدي ولایت دی د افغانستان په ختیځ کې پروت دی چې شمال ته یې د نورستان ، سهیل (جنوب) ته یې د ننګرهار ، لویدیځ ته یې د لغمان ولایتونه پراته دي.او په ختیځ کې د خیبر پښتونخوا سره (۱۷۵) کیلو متره ګډه پوله لری.دکونړ ولایت (٤٣٣٩) کیلو متره مربع یا (١٦٧٥) میله مساحت لري او جګوالی یی (١٩٠٦) متره دی.او د سمندر د کچی٤٢٦٧ متره لوړوالې لری کونړ د (٧١) تر (٧٠) درجو (٢٣) تر (٦) دقیقو (٢٨) تر (١٤)ثانیوختیځ طول البلد کې او (٢٤) درجو (٣٤) تر (٢٧) دقیقو (٢٤) تر (١٣) ثانیو شمالي عرض البلد کې موقعیت لري
کونړ د کابل پوری ٢٤٠ کیلو متره اوږدوالې لري




کونړ نقشه

د کونړ بشری حالت

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونړ دافغانستان د زیات نفوس لرونکو ولایاتونو څخه دی چی تقریباً ۵۰۰،۰۰۰ اوسیدونکي لري، اکثره یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوی.دکونړ ۹۵٪ په سلنه کې پښتانه او نور ۵٪ نورستانیان او پشه یان دي د کونړ ټول خلک مسلمانان دی .

د کونړ ولایت ولسوالۍ

کونړ ولایت په دوو برخو بر کونړ او کوز کونړ ویشل شوی دی
او د مرکز په شمول (١٦) ولسوالۍ لری
١ ) اسد آباد ولسوالۍ [مرکز ]
٢ ) بر کنړ ولسوالۍ)
٣) چپه دره ولسوالۍ)
٤) دانګام ولسوالۍ )
٥ ) پیچ دره ولسوالۍ)
٦) غازي آباد ولسوالۍ )
٧ ) خاص کنړ ولسوالۍ )
٨ )مروره ولسوالۍ)
٩ ) نرنګ ولسوالۍ )
١٠)ناړۍ ولسوالۍ)
١١) نورګل ولسوالۍ )
١٢ ) څوکۍ ولسوالۍ)
١٣ ) شیګل ولسوالۍ)
١٤ ) سرکانو ولسوالۍ)
١٥ )وټه پور ولسوالۍ)
١٦ )شلتن ولسوالۍ)
Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو ولسواليو په لنډه توګه لاندې پيژندنه کوو

اسعد اباد-۱ :

اسعداباد د کونړ ولايت مرکز دی،چې ۴۸۰ کيلو متره مربع مساحت لري ،د ۵۲ لويو او وړو کليو لرونکی دی، چې ۱۳۳۴۴۵ تنه وګړي پکې ژوند کوي ، اسعداباد په چغسرای سره هم يادېږي، د اسعداباد ښار شمال ته د چغان په نامه يوه تاريخي غونډۍ ده ، چې د چغانيانو واکمني پکې تېره شوې او ډېر تاريخي ارزښت لري، دا ښار له طبعي پلوه ډېر ښکلی دی ،د ښار په منځ کې دپيچ درې سيند تېر شوی . دغه راز په بله څنډه کې يې د کونړ لوی سيند بهيږي .

نرنګ ولسوالي-۲:

دغه ولسوالۍ د اسعداباد سوېل ته د جلال اباد پر لويه لاره پرته ده، ۱۶۴ کيلومتره مربع مساحت او ۶۸ لوی او واړه کلي لري، چې د وروستيو معلوماتو له مخې، شاوخوا ۴۸۷۰۰ وګړي پکې ژوند کوي ، ډيری وګړي يې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي.

خوکۍ ولسوالي-۳:

نوموړې ولسوالۍ داسعداباد سوېل ته د جلال اباد پر لويه لاره پرته ده، ۲٤۹ کيلومتره مربع مساحت او ۱۲۲ لوی او واړه کلي لري ، د وروستيو معلوماتو له مخې، شاوخوا ۵۴۷۲۵ تنه يې نفوس ښودل شوی، خلک يې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، غرنۍ سيمې يې ځنګلونه لري.

نورګل ولسوالي-۴:

دا ولسوالي هم د مرکز اسعداباد سوېل ته د جلال اباد پر لويه لاره پرته ده او د ننګرهار د ښېوې او د دره نور ولسواليو سره ګډه پوله لري، مساحت يې ۳۶۷ کيلومتره مربع دی او ۸۷ لوی او واړه کلي لري ،شاوخوا ۵۳۱۷۰ تنه وګړي پکې ژوند کوي او زيات خلک يې په کرنه او



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالداري بوخت دي.
۵- خاص کونړ ولسوالي :
دغه ولسوالي د اسعداباد سوېل ختیځ لوري ته پرته ده ، ۳۳۷ کیلو متره مربع مساحت او ۶۶ کلي لري ،نفوس یې شاوخوا ۴۷۸۹۰ تنه اټکل شوی ، د ننګرهار شېوې ولسوالۍ او د ډیورنډ کرښې سره سرحدونه لري، خلک یې په کرنه او مالدارۍ کې بوخت دي.
۶- سرکانو ولسوالي:
دا ولسوالي هم داسعداباد په سوېل ختیځ کې پرته ده ، مساحت یې ۲۹۷ کیلومتره مربع دی ، ۸۳ کلي لري ، ۴۵۹۳۰ تنه نفوس یې اټکل شوی، ، خلک یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، د ډیورنډ کرښې اود خاص کونړ او مروري ولسوالیو او مرکز اسعد اباد سره سرحدونه لري.
۷- مروري ولسوالي:
دغه ولسوالي د اسعداباد ختیځ ته پرته ده، ۱۵۹ کیلومتره مربع مساحت لري او ۴۳ کلي لري ، شاوخوا۲۶۸۵۰ وګړي پکې ژوند کوي ،سرحدي ولسوالي ده دډیورنډ کرښې او د سرکانو ولسوالۍ، مرکز اسعد اباد او شیګل ولسوالۍ سره سرحدونه لري.
۸- شیګل ولسوالي:
دا ولسوالي د مرکز اسعداباد ختیځ ته پرته ده ، ۹۵ لوی او واړه کلي لري، چې نفوس یې شاوخوا۵۷۳۷۰ تنه ښودل شوی،خلک یې په کرنه بوخت دي. پراخه ځنګلونه لري، مشهور جهادي قوماندان کشمیر خان د همدې ولسوالۍ اوسېدونکی دی.
۹-اسمار ولسوالي:
نوموړې ولسوالي هم داسعداباد ختیځ ته پرته ده ، ۹۱۰ کیلومتره مربع مساحت لري او ۴۷ کلي لري،د وروستیو معلوماتو له مخې یې نفوس

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاوخوا ۲۹۵۴۵ تنه اټکل شوی، خلک يې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. دا هم ډيورنډ سره ګډه پوله لري.
د برېښناد سره تاق بند، چې د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال يې سروې شوې وه، چې که جوړ شي، شاوخوا ۲۵۰۰ ميګاواټه برېښنا توليدولی شي، په همدې ولسوالۍ کې دکونړ پر لوی سيند پروت دی.

۱۰- دانګام ولسوالي:

دا ولسوالي هم دمرکز اسعداباد ختيځ ته دډيورنډ کرښې ته څېرمه يوه غرنۍ ولسوالي ده، مساحت يې ۳۳۴ کيلو متره مربع ده، ۳۶ لوی واړه کلي لري، نفوس ۲۴۶۳۰ تنه اټکل شوی، او خلک يې زيات په کرنه او مالدارۍ بوخت دي.

۱۱-غازي اباد ولسوالي:

دغه ولسوالي داسعد اباد ختيځ ته پرته ده ، ۵۵ کلي لري او نفوس شاوخوا ۳۷۲۹۰ تنه ښودل شوی، خلک يې زيات په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، چې مشوانې ، ګجر او سالارزي قومونه پکې ژوند کوي، په غرييزو ساحو کې ځنګلونه هم لري.

۱۲-نارۍ ولسوالي:

دا ولسوالي هم د مرکز اسعد اباد ختيځ ته پرته ده ، ۳۷۷ کيلومتره مربع مساحت لري ،نفوس شاوخوا ۴۷۷۶۵ تنه ښودل شوی او ۸۱ لوی او واړه کلي لري،خلک يې په کرنه اومالدارۍ بوخت دي،غرونه يې ټول دنښترو په ونو پوښل شوي، د ډيورنډ کرښې له چترال سره،دختيځ نورستان دکامدېش ولسوالۍ اود غازي اباد ولسوالۍ سره سرحدونه لري، ګجر،سالارزي،مشوانې او کوهستاني قومونه پکې ژوند کوي.

۱۳-وټه پور ولسوالي:



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ولسوالي د مرکز اسعداباد شمال ته پرته ده، چې د پېچ درې سیند په دوه برخو ویشلې، ۴۹ لوی او واړه کلي لري، نفوس یې شاوخوا ۲۸۵۹۵ تنه ښودل شوی، د مانوګي ولسوالۍ او د نورستان د مرکزي ولسوالۍ وانټ وایګل او مرکز اسعداباد سره سرحدونه لري . د مناګي برېښنا کوټ بند، چې اوس منظور شوی، د پېچ درې پر سیند په همدې ولسوالۍ کې جوړېږي ، چې دوه نیم میګاواټه برېښنا به تولیدوي ، خلک یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي.

۱۴-مانوګي ولسوالي:

دا ولسوالي هم د مرکز اسعداباد شمال ته پرته ده، د نفوس او مساحت له پلوه تر ټولو لویه ولسوالي ده، ۵۳۱ کیلومتره مربع مساحت لري، نفوس یې شاوخوا ۷۶۷۸۵ تنه اټکل شوی ، دا هم یوه غرنۍ ولسوالي ده او په غرونو کې یې د قیمتي ډبرو(بیروچ،کونزیټ اوکمرین) کانونه شتون لري، ساپی قوم پکې ژوند کوي او خلک یې دکانونو دکندلو سربیره په کرنه او مالدارۍ بوخت دي.

۱۵- چپه دره ولسوالي:

دا ولسوالي هم د مرکز اسعداباد شمال ته پرته ده ، چې ۲۲۹ کیلومتره مربع مساحت لري ،۱۱۰ لوی او واړه کلي لري ،چې د وروستیو معلوماتو له مخې یې نفوس شاوخوا ۴۷۶۰۵ زره ښودل شوی ، د مرکزي نورستان واما ولسوالۍ او لغمان سره سرحدونه لري ، ساپی قوم پکې ژوند کوي اود کونړ د قیمتي ډبرو( بیروچ ، کونزیټ او دکمرینو ) کانونه په کې دي، د ځایي چارواکو په وینا، په چپه دره ولسوالۍ کې اوس هم د ۱۱۰۰ کانونو کې عملا کار روان دی،چې په غیر فني توګه ویستل کېږي او پاکستان ته قاچاق کېږي، ددې ولسوالۍ زیات خلک یې دمعدنونو په راویستلو بوخت دي.

۱٦-شلتن ولسوالۍ



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شلتن ولسوالۍ نوی په رسمیت پیژندل شوی مخکې د شیګل ولسوالۍ مربوط وه له همدې امله په اړه یی معلومات نشته




کونړ ولسوالیو نقشه




Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونړ چوک

د کونړ ولایت درې

کونړ ولایت لویې او کوچنۍ درې لرې چې دلته یې د لویو درو یادونه کوم پیچ دره.چپه دره.مزار دره.دیوه گل دره.باړیل دره.شونکرۍ دره. اسمار دره.دانګام دره.اندراج دره.اړوال دره.نارۍ دره.مرورې دره. شیګل دره .او داسې نورې وړې درې شته

دمزار دره

کله چې دښېوې او اسلام پور دکلیو څخه داسلام پور دغاښې څخه ورتېر شو د نور ګل کلی راځي چې د یوې درې په خوله کې پروت دی .دا دره د مزار درې په نوم یادېږي

د دېوګل دره

سم تلفظ یې دېوه ګل دی،د درې ذکر د دې نوم وروسته بې مورده دی ځکه چې دا نوم له دیوه(روښنایي) او ګل (دره) څخه ترکیب شوی چې مجموعي معنا یې نور او یا رڼا دره ده . د دېوه ګل دره ډېره اوږده دره ده او د ځوکۍ کلي یې په خوله کې پروت دی او وروستی سرحد یې دېبچ درې، چپې درې او بیا واما ته رسیږي. صافیان دې درې ته پلار دره وایي. داځکه چې په کونړ کې د صافیانو (ساپیانو) د .قوم لومړنی مرکز او استوګنځی بلل کېږي
د کونړ ولایت کنډونه
د مالونو د ورلو راوړلو لارې ته کنډو وایی د کونړ کنډونه په لاندې

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول دي مټې کنډو، شالي وولی کنډو، ناوه پاس کنډو،مروری کنډو،لیټیې کنډو،بنشی کنډو او داسی نور کنډونه شته دی

د کونړ ولایت نومونه

کونړ دپخوانیو مؤرخینو په آثارو کي کنړ، کنیر، کهویس (Khoes)، کولو، کونړ، کونر او داسي نورو په نومونو راغلي دي. ، (kunar) کونر په شکل له دوو کلمو څخه جوړ شوي دي چي (konar)کونړ (کونر نورستانیانو ورته کونړ وایه او په نورستاني لهجه یې معنا(دښووونه دره) یا زیتون دره ده. په دي نوم کې هم د نورو نورستاني کلمو او نومونو په شان چي په نورو ژبو کې یې(له)،(په) (ړ) اوښتلي بدلون راغلی دی او په کونړ یی شهرت پیدا کړی دی.

د کونړ ولایت جوړښت

کونړ ټول غرونو نیولی دی او په ځنګلونو پټ دی تاریخي اسنادو شواهد داسې ښائي چې ډیر پخوا د کنړ دره غرونو څخه نیولي ان دکونړ د سیند دغاړوپوري په ګڼو ځنګلونو پټه وه ، چي زیاتره بوټي يي، ښونان اوغوراځکي وو، د دي ډولونو د موجودیت د ثبوت د پاره به دا کافي وي چي وویل شي کله چي سلطان محمود غزنوي د لومړي ځل لپاره د اسلامي فتوحاتو په لړ کي د کونړ د دې درې په خوله کي د کابل له سیند څخه راپورې ووت د نور او قیرات په درویي حملي کولي نو يي د خپل لښکر سره دنجارانو، آهنګرانو، سنګ تراشانو اونور کسبګرانو ډلي هم را واخیستلي ترڅو چي د ځنګل وني اوبوټي ووهي، تیرې ماتي کړي او د خپل لښکر د پرمختګ لپاره لاره جوره کړي.

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کونړ د خلکو نژاد

د کونړ خلک غنم رنګه دي میانه ونه لري توري سترګي او تور ویښتان لري.

د کونړ د خلکو ژبه

کونړ ولایت هم دوه رسمي ژبې لري چې یوه پښتو او بله دري ده د کونړ خلک په پښتو ژبه خبري کوي [redacted] په کونړ

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی د پښتو ژبې سربیره نوری محلی ژبې هم شته چی له گوجری،
پشه یی، نورستانی او داسی نورو څخه عبارت دی.

د کونړ د خلکو قومونه

په کونړ کی بیلا بیل پښتانه قومونه ژوند کوی لکه:
الکوزي: الکوزي سربني پښتانه دي او د دانیو زیرک پورې اړه لري او دکونړ په سر کاڼو کې وجود لري.

تر کاڼي: دا قبیله د سړبن په ټولنیز گروپ پورې اړه لري او په کونړ کې شته دی.

سالارزي: سالارزي دپورتنۍ قبیلې یو ښاخ دی او دکونړ په لاندنیو سیمو کې ژوند
کوي. دانگام ،اسمار،شنگرۍ ،شالۍ (شال)،نارې ،بریکوټ ،دم
کلی ،نرنگ ،سرکاڼو ،گنجگل ،ټانگو ،شلتن،مروره ،اغذباغ،ساو ، ساوخو
ړ ،خوکۍ ، بارگام ،ازیرگل ،ډمبرو ،حصاره(ایساره) کرهاله،دونه یی .

خاښي خېل:خاښی خېل یا خوښي خېل د کونړ په ځینو ځایو کې
هستوگنه لري چې په یو روایت سره د میرزا الغبېگ په وخت کې
کونړ ته لېږدېدلي دي.

سرکاڼي: دا دالکوزیو یو ښاخ دی چې دکونړ په سر کاڼو کې او سیږي
او د نوم دمناسبت له مخې د سرکنډ کلی هم د دې قبیلې یو کلی دی

شینواري: د شیگل شینواري تقریباً ۳۰۰ کاله دمخه د ځینو عواملو له
کبله د سره کمر له خوا نه تللي دي او د شیگل ځمکه یې له نورو
قومونو څخه چې په هغه وخت کې کافران وو نیولې وه،شیگل ته د



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

شینوارو راتگ او د نورو قومونو څخه د شیګل نیول د شیخ بابا په مشرۍ چې اصلي نوم يې(ذکریا) دی تر سره شوې دی.

عبدالرحیم زي: دا قبیله د غلجیو په ټولنیز ګروپ کې شامله ده او د احمدزیو یو ښاخ دی او دکونړ په ښېوه کې اوسیږي.

لودین: دوی غرښتي پښتانه دي او په کونړ کې هستوګنه(استوګنه) لري.

ماموند: دوی د سړبن په ټولنیز ګروپ کې شمېرل کیږي او دښا خي خېلو(خا ښي خېلو) دترکاڼي په قبیلې پورې اړه لري.دوه ماموند وجود لري:لومړی ماموند(کاکازي)واړه ماموند دواړو ماموندو ځینې خېلونه په شلتن،دانګام او په وټه پور کې ژوند کوی.

مشواڼي:مشواڼي په اصل کې غرغښتي پښتانه دي، دوئ دکونړ په نارۍ،دانګام او اسمار کې اوسیږي.

ملکزي: په کونړ او دنرنګ په جار قلعه کې هستوګنه لري.

ملاګوري: سړبني پښتانه دي او د مومندو په ستري قبیلې پورې اړه لري ، د ملا ګورو کورني د دري په ملا ګورې او دنرنګ دکوټکې په کلي کي اوسیږي.

مومند: مومند دسړبن په ټولنیز ګروپ کې یوه ستره قبیله ده چې د کونړ د ولایت په اسد آباد ، خاص کونړ،سرکاڼو،نورګل او نرنګ کې اوسیږي.

یوسفزي: یوسفزي هم په کونړ کې هستوګنه لري او یو لوی پښتون ټبر دی.

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزرگخېل: بزرگخېل یوه لویه قبیله ده چې دکونړ په نرنگونو لکه بر نرنگ ، کوډو ، کره ماراو په یوه روایت سره په کوټکي او حکیم آباد(کولي گرام) او دخوکۍ په کلماني گې هستوگنه لري.

ساپې☺صافي) د زیاتره تاریخي اسنادو له مخې د ساپي قوم چې په کونړ کې مېشت دي یو لوی قوم شمېرل کیږي چې د کونړ (٦٥٪)خلک تشکیلوی دوی په لومړۍ سر کې د غوږې مرۍ څخه سره کمر ته رالېږدېدلي دي او بیا له دې ځایه د شونکرۍ له غاښې کونړ ته اوښتلي لومړۍ یې بهر آباد او بیایې له مجبوریته د کونړ سیند ښکته او پورته برخوته د هغو ځایونو دقومي قدرت په وجه نفوذ نه دی کړی له سیند څخه دبوگل ته راغلي او هلته استوگن شو او په دې پلار دره کې یې لوی مرکزیت پیدا کړ او بیا د مزار درې،باډېل درې او دېبچ درې له سرونو څخه د درو دخولو پورې را خپاره شول.د ځینو کتابونو له نظره صافیان د اسپه له کورنۍ څخه دی ځکه ورته صافیان وایی

سادات

په کونړ کې زیات شمېر د سیدانو کورنۍ موجودې دي ، د دې سیدانو عمومي لوۍ کلی پشت دی چې سید محمود پاچا هم دلته اوسېده ، په دې برسېره د کونړ په ځینو نورو سیمو لکه شال،بر نرنگ،شین کورک،دو شاخېلو،یارگل،خاص کونړ،کوز نرنگ او نورو ځایونو کې هم د سیدانو (پاچاهانو)کورنۍ موجودې دي.

موسیٰ خېل:موسیٰ خېل هم په کونړ کې اوسېږي.
گوجر :گوجر هم په کونړ کې اوسیږی
د کونړ د خلکو خواره

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کونړ د کليو خلک غنم، وريجی، جوار ډېر کاروی او د غرونو خلک جوار، غنم، وربشی، ړدنو، ځنګلی ميوو او دانو څخه کار اخلی شوده، ماسته، کرت، چکه، شړومبی، کوچ او غوړی هوارو سيمو کې لږ کارول کيږې خو باندو کې ډير کارول کيږي د غرنيو سيمو څخه خريږې(ګوځي)،انګور کچالو انار شنی،کروړي بادام املوک شفتالو زردالو الوچې توت ګورګورې زيتون مرخنۍ غوزان پرګي ځمکنی توت ممانې او ګيلاس تر لاسه کيږي چې د بانډو د اوسيدونکو خواړه جوړوی د سبو خواړه بوټي لکه سيزونی سارمی شلخی خيزې او داسې نور دی چې خلک يی د سبو په ډول کاروي.

دکونړ دودونه

په عمومي ډول په کونړ کې ډېر غوره دودونه شته دی چې د نړۍ په نورو قومونو کې يې ساری نه ليدل کېږی او زموږ دهېواد يوه وتلې بېلګه ګڼل کېږي چې له دې جملې څخه جرګه،تړه،ځلی،نرخونه،چيغه،ننواتې،ناغه،مېلمه پالنه، د ولور نه اخيستل د جومات او ملا رواجونه او داسې نور د خورا ستاينې وړ دي.

د کونړ ولايت اقليم

کونړ ولايت مديترانې اقليم لری له اوړی ګرم او له ژمی يخ وی کونړ ولايت ته په ژمی کی د سايبريا سړې څپې رانوځی له همدې امله په ژمی کی په جګو ساحو کی د واوری لامل ګرځی د کونړ سيند د کونړ په اقليم د پام وړ اغيزه کړی ده .

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کونړ ولایت غرونه

د کونړ ولایت غرونه په لاندي ډول دی: کونډ غر، لنډلام غر، کټار غر، کانټه واټ غر، ترمت غر، الیک غر، کوړنګل غر، شوریک غر، ایله ځی غر، شهبازی غر او داسی نور غرونه شته دی .

د کونړ ولایت ځنګلونه

د کونړ ځنګلونو د کونړ ۹۰٪غرونه نیولي دي چې د ځنګلونو پراخوالی تقریباً(۱۹٤۰۰)هکټاره دي کونړ کې د ځیړی، نښترو څوډوله، جلغوزی، ټیټاقی، ممانی، شیرون، ګورګوری، خوږچ، غوریجی، ختریز، ورغشته.شنی، غرنی بادام.انار.انګور.غوراخکی، غوزان، برړی او داسی نورو ونو ځنګلونه شته دی چی نه یواځی کونړ ته یی ښکلا وربښلی بلکې د سیلابونو مخنیوی هم کوي له لرګو یی خلک په سوځولو کی هم کار اخلې دي لرګو په نړیواله سطحه شهرت موندلي او خلک یی په چارتراش لرګو پیژني دا لرګی چی خورا زیات مشهور دی د بی امنیتی له امله د افغانستان ګاونډي هیواد پاکستان ته په قاچاق وړل کیږی افغان حکومت یی د مخنیوي لپاره په کونړ ولایت کی یوه فابریکه جوړه کړی چې د لرګو څخه ډول ډول شیان جوړوی.



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کونړ سیند

د کونړ سیند د امو سیند څخه وروسته په افغانستان کی دوهم مقام لری دا سیند د ختیځ هندوکش په سویل کې د بروغیل غاښی د (٤٠٠٠) متره لوړوالي څخه سرچینه اخلی او د کامې په ثمرخیلو کې د کابل سیند سره یوځای کیږی دا سیند د کابل سیند پوری تقریباً (٢٧٠)میله اوږدوالي لری دا سیند په تاریخي اسنادو کې د [راسا] په نوم شهرت لری دې سیند د کونړ په اقلیم د پام وړ اغیز کړی ده په کرنه او د سیمی په خړوبولو کې تری کار اخیستل کیږي په کونړ سیند

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی سره زر هم شته چی زرکشان یی ترې راوباسي د دې سیند لوی
مرستیالان د پیچ سیند او د لنډي سیند مرستیالان دی د کونړ سیند
باندی د برښنا (۳) بندونه جوړېږي (۱) سره تاق بند چی(۲۵۰۰) میگا
واټه برښنا تولیدوی (۲) مناگی برښنا بند (۲,۵)میگا واټه بریښنا
تولیدوی (۳) ځاګی برښنا بند له دی څخه د ځاګی برښنا بند په کار
پیل کړی دی او ښار ته برښنا ورکوی د مناگی برښنا بند هم جوړ شوی
خو تر اوسه د سره تاق بند په جوړولو کار نه دی پیل شوی.دا چی د
کونړ سیند په زیات رفتار سره مخ په ښکته روان دی د کښتی چلولو
لپاره مناسب نه دی
د کونړخلک زیاتره د چینی اوبو څخه کار اخلی خو په هوارو ساحو
کی خلک له کوهیانو څخه کار اخلی .



پیچ دری سیند



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ سیند



Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونړ سیند

د کونړ لویی لارې

دکونړ تر جلال اباد لوی سرک کونړ نورستان سرک او نورو ولسوالیو ته پاخه سرکونه تللي دي.

د کونړ په سیند پلونه

د کونړ او پیچ سیندونو باندی پلونه جوړ شوي دي په (۱۳۹۳)کال کې د پلونو شمیر ۱۱ ته رسیده .

د کونړ طبیعی زیرمی

کونړ ولایت طبیعی زیرمی هم لري چې له هغې څخه په چپه دره او باډیل مانړوکی شنګرۍ کې کاني زیرمی دي په باډیل کی زمرد او چپه دره مانړوکي کې: بیروچ، کونزیټ، کمرین شتون لری د ځایی چارواکو په وینا چپه دره کې په (۱۱۰۰) کانونو کې په غیري قانوني ډول کار روان دی او له بی امنیتی له امله په قاچاق ډول ویستل کیږی .

د کونړ ولایت ستراتیژیک موقعیت

کونړ ولایت خورا زیات ستراتیژیک موقعیت لری د کونړ ولایت نورستان او ننګرهار سره نښلوی د نواپاس لاره چی کونړ او پاکستان سره نښلوی د اسعداباد موقعیت چی د ټولو ولسوالو ورته په اسانه راتګ کیږی .

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کونړ کې اقتصادي فعالیتونه

داویدنې صنعت

په کونړ کې که څه هم ورېږ زیاتې استحصالېدای شي خو بیا هم د وړیو څخه ډېره کمه ګټه اخیستل کېږي، معمولاً وړین کالي چې په غرنیو سیمو کې زیات رواج لري جوړېږي د دې خبرې علت دا دی چې په دغو سیمو کې ساړه زیات او له بلې خوا نه د هغو د اوسیدونکو تګ راتګ تل په ځنګلونو کې وي او وړین کالي د ونو او بو ټو د څانګو سره د نښتلو په وخت کې زیات مقاومت لري په دې سیمو کې د پسه وړۍ دلاسونو په واسطه (لاسي څرخۍ)ریشي چې د ریشولو په کار کې ښځې زیاته برخه اخلي او خاص مهارت لري کله چې وړۍ وربشل شي نو بیا په خپل لاس جوړو شوو ساده دستګاه ګانوکې ترې تکه جوړوي او د استحصال شوي ټوټې څخه د هغو د تارونو د نري توب او پنډوالي په اعتبار مخصوص کالي لکه:
کورتۍ،شړۍ،پکول،صافي واله
خولۍ،کوڅۍ،پاپیچۍ،شوقه،څړۍ،ټغرې،لمڅۍ،،دباروړلو دپاره وریۍ،جوالونه،غوندي او داسې نور ترېنه تیاروي. همدارنګې په کونړ کې په تېره بیا د کونړ د ناوې په ښکتنیو سیمو کې د پنبې کرل زیات رواج درلود یا لري.خو پخوا چې دمحلي صنعت له مخې د خلکو جامې عموماً له خامتا(کرباس) څخه وې نو دا وه چې پنبه زیاته کرل کېدله د ژمي په موسم کې چې له یوې خوا د مني د حاصلاتو له جملې څخه پنبه هم وه او له بلې خوانه شپې به اوږدې وې، دکورنیو ښځو به په خپلو لاسونو تر حلاجۍ او ندافۍ وروسته په لاسي څرخو هغه ریشلې او جو لاګانو به د ماکو په دستګاه خامتا اوبدله او

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا يې خادر ، پټکي او کالي ورځیني تیارول اوس وخت کی د کونړ پکولونه په افغانستان کی زیات مشهور دی.

کونړ ولایت او تعلیم

کونړ ولایت خلک زیاتره تعلیم لری په کونړ کی زیات شمیر ښوونځی شته د کونړ ښوونځی په ابتدایه متوسطه او لیسو ویشل شوی دی چی هلکان او انجونی په کې زده کړی کوی د کونړ مرکزی لیسي د هلکانو لپاره عمراخان لیسه او د انجونو لپاره بی بی فاطمی لیسه ده د کونړ ټول ښوونځي فعاله دی د کونړ مشهوری لیسي عبارت دی له:عمراخان عالی لیسه، بی بی فاطمی د انجونو لیسه، جمعیت اسلامی عالی لیسه، کبیر ستوری عالی لیسه او الزهور خصوصی لیسه ده په کونړ کی سید جمالدین افغان پوهنتون هم شته چی په بیلا بیلو څانګو کی د افغانستان له ټولو ولایتونو په کی محصلین زده کړی کوی خو په کونړ کی طب او انجینری او داسی نور د لوړی سوي پوهنتونونه نشته.



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سید جمالدین پوهنتون



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سید جمالدین پوهنتون

دکونړعلمي کادران

کونړ ولایت د علم ټاټوبی دی چی زیات شمیر علمي کادران یې ټولنې ته وړاندي کړي له هغې څخه سید جمالدین افغان، سید شمس الدین مجروح، سید بهاالدین مجروح، مستوره شال او داسی نور د یادوني وړ دي .

د کونړ د سیل ځایونه

کونړ ولایت د تفریح لپاره هم ښکلي ځایونه لري چی له هغې څخه دانګام ولسوالۍ، شیګل ولسوالۍ او نواپاس زیات مشهور دی او د بیلابیلو ولایتونو ورته خلک راځي .

د کونړ د سیل ځایونو عکسونه

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ شیګل



کونړ شیګل

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ شیګل



کونړ دانګام

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ دانګام



کونړ دانګام



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ دانګام



کونړ دانګام

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د داود خان په لاس کینول شوی ونه



Scanned with Fast Scan


(c) ketabton.com: The Digital Library



Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنيتي حالات

دهېوادونو په تاريخ کې هغه سيمې د ولسونو او ځواکونو د پوره پاملرنې وړ گرځېدلې دي چې د نورو سيمو په پرتله د هغوې جغرافيوي او سوق الجيشي موقعيت د يو شمېر مشخصاتو له پلوه د وتلي فوقاالعاده اهميت درلودونکي وي. زمونږ په گران هېواد کې هم کومې سيمې چې د جغرافيوي،اقتصادي، فرهنگي او سوق الجيشي ممتاز اهميت څخه برخورداري دي هلته زمونږ نيکونه راټول شوي

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلاگانې،کلي،ښارونه، حصارونه او کروندې يې آبادې کړي،قوي بناګانې يې تأسيس،تجارتي،مذهبي،علمي او کلتوري مرکزونه يې رامنځ ته کړي او مدنيتونه يې ايجاد کړي دي او د تاريخي دورو په اوږدو کې په تېره بيا د مسيحي دورې د لسيزې پېړۍ په شاو خوا کې چې تقريباً داسلامي دورې سره سمون لري له خوړو، ترخو، تودو، سړو، ژورو، ماتو او برباديو څخه ډک تاريخي خاطرات او يادونه لري.نو که د کونړ دې ډول موقعيت ته وګورو په ډېره وتلې توګه د دغسې ممتاز موقعيت لرونکی دی .خو په خاص ډول په تېرو څلور لسيزو کې چې کومې ناخوالې زمونږ په ګران هېواد او په اسلام او هېواد پاله خلکو راغلي او روانې دي نو کونړ(کونړونه)هم د دغو ناخوالو او بر باديو څخه په امن کې نه وو او نه دی.د افغانستان ٤٠ کلنی جګړې په کونړ کی هم ډير زيانونه اړولی دی نه يوائی د افغانستان جګړې بلکی د کونړ په سرحدي ولسواليو باندی د پاکستان لخوا توغوندی غورځول کيږي چې د مالې زيانونو سربيره يی ځانې زيانونه هم اړولې دي خو تر دي دمه افغان حکومت په دي برخه کی د پاکستان سره رسمي خبری نه دي کړي په دی وروستيو کی کونړ د داعش ډلی په مرکز واوښت او د طالبانو سره په جګړه اخته شو که څه هم داعش ډلی ماته وخوړه خو کونړ کی زياتی جګړې وشوی او کونړ د نامنی تر اخری سرحده ورسيده افغان حکومت زيات کلی بمبار کړل او داعش ډلی غړي تسليميدو ته مجبور شول.



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ دانګام



کونړ دانګام

تاريخي ځايونه

استحکامي کلا ګانې

دکونړاوسيدونکي د خپلو مېشته کېدو له وخته راهيسې لکه د هېواد
دنورو قومونو او قبيلو غونډي همېشه په دې فکر کې وو،چې سيمې

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه داسې محل یا ځاي کې دخپلې هستوګنې لپاره کلي اوکلاوې آبادې کړي چې دجغرافیوي موقعیت له مخې باید د لاندنیو مشخصاتو درلودونکي وي:

سیمې په داسې یو محل کې واقع وي چې په شاوخواسیمو باندې د یوې حاکمې نقطې حیثیت ولري.

داستحکامي پوخوالي له مخې پوره طبیعي عوارض ولري،یعنې په جګو غونډیو او ځایونو پرتې وي او په ډېر محدود جنګي قدرت یې دفاع کېدله او دپردیو حملې پرې دومره مؤثرې تمامې نه شي.

معمولاً دکلاګانو موقعیت دځلور لارو، درې لارو د تلاقي په نقطو کې او یا د عمومي لارو پر سر وي.

داوبو رسولو منابع لکه سیندونه او چینې ورته نژدې وي او یا په دننه کې هم داوبو دغه منابع ولرلاي شي.

دهغو د ودانولو په چارو کې تر ممکنه حده پورې د ساختماني موادو اکمال ډېرې ستونزې ونه لري که دکونړدپخوانیوکلاګانو جوړښت ته وکتل شي تر ډېره حده پورې دجغرافیایوي موقعیت په اعتبار پکې پورتنې بېلګې په نظر کې نیول شوي دي.

۱) دچغان غونډۍ)

د چغان غونډۍ کلا چې معمولاً ورته د چغان غونډۍ وایي له پخوا زمانې نه تر اوسه پورې دیوې کلکې دفاعي کلا ، د کشف او ترصد د پاره ډېر مناسب محل ګڼل کیږي چې شاوخوا سیمې ترې په ډېرې آسانۍ سره تر کنترول لاندې نیول کېدای شي. د چغان غونډۍ د



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمار او پېچ د درې او دکونړ دښکتنۍ برخې د تلاقي او د لوی
.سیند او پېچ سیند دیو ځای کېدو په برخه کې موقعیت لري

د چغان غونډۍ دلاندې چې یو وخت د نیسا ښار موقعیت درلود او یا
ننګر ښار هم دلته پروت وو دلاوضاحت لپاره دغه غونډۍ ددمکلي
مخامخ دکرهالي شمال شرق خواته دغره دلمنې په یوه جګه غونډۍ
جوړه شوې ده.دا کلا او محل هغه وخت په چغان غونډې ونومول
شوه چې دلته په دې سیمه کې دچغانیانو حکمراني وه،او دچنګېز
داولادې دچغتایانو په وخت کې د دې ځای دتسمیې د وجه په نسبت،
دومره مستنده نه ښکاري اوامکان لري چې په چغسرای (اسعداباد) د
دمکلي اړول به د چغانیانو په وخت صورت موندلی وي نه د چغان
.غونډۍ،ځکه چغانیان له جغتایانو څخه بل څوک وو

دکلوم کلا

دکلوم کلا چې دکولم،کالم،کلم او دقلوم په نوم هم یاده شوې ده
دمرکزي نورستان د پېچ درې په وروستۍ برخه کې پوشال،رمګل او
مندوګل ته نژدې په ناجل کې دغره په جګه څوکه باندې له تیږو څخه
جوړه شوې ده چې ډېره محکمه کلا ده.په تاریخي اسنادو کې چې د
دې کلا څخه یادونه شوې ده هغه دامیر تیمور او دامیر عبدالرحمن د
هغو لښکرکشیو د واقعاتو بیان دی چې په نورستان یې کړي دي.ګوډ
تیمور کله چې د کتور په درو کې لښکر کشي وکړه او هغه کلا یې له
ډېرو ستونزو اوقربانیو ورکولو وروسته فتحه کړه نو دخپلې فتحې
په یاد یې هلته یو یادګار پرېښود دغه یادګار دکلوم دکتیبې په نوم
.یادیږي

دپیار کلا
Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپیار کلا چې د لویدیز نورستان ژونیا ته نژدې یې موقعیت درلود د کتور د نورستانیانو د پخو کلاگانو څخه یوه کلا ده چې د هغې د تسخیرولو واقعه داسې بیان شوې ده، "کله چې د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې په کونړ کې دپوځي سوقیاتو په ترڅ کې سپهسالار غلام حیدر خان څرخي ته امر وشو چې نورستان ونیسي نو د لغمان حاکم اولیاقل چې دپیار د خلکو په تنبیه کولو اخته وو دجگړې نیت وکړ. د سراج التواریخ په قول په ۳۲ دقیقو(دسرعت عمل څخه مراد دی) په موده کې یې د کافرانو قوت مات کړاو ځینو یې غرونو ته پناه یووړله او له دې جملې څخه ۱۸۰ تنه چې د پیار په کلا کې یې ځای نیولی ؤ کلا بند کړل ، دوه شپې او ورځې کلا محاصره وه او کله چې ورته د اولیاقل په امر اور واچول شو وسوزول شوه او کلا ونیول شوه."

دکټار کلا

دا کلا د کتر کلا په نوم چې د کتر یا کتور د قبیلې پورې مربوط ده د یوې کورنۍ ځای وو او بل تاریخي نوم یې (پرېچ ورن دیش) دی او په بر چغسرای کې یوه ډېره ټینګه او لوړه کلا وه،چې دشامیر کوټ شمال لویدیځ خوا ته دیوه غره په لمن کې کې تر کتر (کتور) او گمبیر راښکته موقعیت لري. زموږ د پخوانیو خلکو له خولې چې نقل یې کاوه ، د دغه کلا خلک ډېر سخت کافران وو ډېر سنگدله او بېرحمه خلک وو کله چې دهغوی دمسلمان کولو په مقصد لښکر جوړ شو په دې لښکر کې د نرنګ خلک هم شامل وو، خو د کلا د کافرانو لخوا د ډېر سخت مقاومت سره مخامخ شول او هېچا نه شو کولای چې کلا ته ور وخېژي، دا ځکه چې هغوی پرې له پاسه تیږې راغورځولی تر څو چې په یوه ډول جنګي تکتک سره وروختل او کلا ته یې اور



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچوه او دا چې د کلا په ساختمان کې زياتره لرگي کارول شوي وو
نو کلا په آسانۍ سره اور واخيست او دکتبار کافران غرونو ته وختل.

## د کونړ ولايت مشهور ځايونه

کونړ ولايت هم مشهور ځايونه لری چی د افغانستان په سطحه مشهور دی او عبارت دی د دمکلی، کرهاله، نواپاس، باډيل، نواباداو داسی نور.

## کونړ د تاريخ په اوږدو کې

کونړ د تاريخ په دورو کې هم ډيری کارنامی تر شا پريښی له هغی څخه سکندر مقدونی د کونړ په اسمار کی ټپی شو دويم کله چې د تيمور بريدونه په افغانستان جاری و د کونړ په پيچ دره کی يوه سيمه يزه واکمنی وه چې مشر يی سلطان پکهل ووداسيمه يزه واکمنې په کال(۸۰۰) هجری يا (۱۳۹۷) ميلادی کې وه او دا واکمنۍ د شينوارو کونړ سوات او باجوړ په غرو کی د هزاره تر ضلع او کشمير پوری محدوده وه دا واکمنۍ تر ۹۱۰هجری کال پوری دوام وکړ د دی کورنۍ مشهور واکمن شيخ آدم وو چی په [ملی] مشهور وو ددی کورنۍ اخرنې واکمن طاووس خان وو دريم کونړيانو د ازادی په جګړه کی هم د مير زمان خان په مشری د انګريزانو سره زياتی جګړی وکړی سيد جمالدين هم د اسلامۍ نړی د يووالې لپاره ډيری هڅی وکړی.

## د کونړ تاريخي ځايونه

کونړ ډير تاريخي ځايونه لری لکه کولو ساپنګ (وستل کلا) اندراک ښار، سآمول ښار، اندر لچک ښار، نيسا ښار، کونړ ښار، ننګر ښار، چغه

Sat Dec 19 18:41:27 GMT+04:30 2020 - Memorize Journal

Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرای ښار(دم کلی )،اسپین ښار ، چغان ښار، او داسی نور د یادونې ور دي

# د نابغه ټاټوبی وپیژنه د کتاب پای

# 04/01/2021

تیروتنې په لاندې ادرس راواستوي

safi.idris1234@gmail.com



Scanned with Fast Scan

(c) ketabton.com: The Digital Library




Scanned with Fast Scan

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**